# دښځو او انجونو په وړاندې دتاوتریخوالي
# په جرمونو کې دعدالت په لټه



په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی (یوناما)

د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د عالي کمیشنري دفتر

دسمبر ۲۰۲۰

## د مطالبو فهرست

*۱. د راپور لنډیز ........ 4*
*۲. میتودولوژي ........ 6*
*۳. د ښځو او نجونو په وړاندې د تاوتریخوالي د جرمونو پروسس کول ........ 7*
**الف. قربانیانو ته یوه کتنه** ........ 8
**ب. تورنو مرتکبینو ته یوه کتنه** ........ 8
**ج. د قضیو حل و فصل** ........ 8
**د عدلي سیستم له خوا نهایي کول (لومړۍ محکمه)** ........ 8
**د شاکي له خوا د راپور شوې قضیې نشتون یا بیرته اخیستل** ........ 10
**په نیونه او نهایي کولو کې پاتې راتلل** ........ 11
**غیر رسمي حل** ........ 11
**د. د قضیې د اجراآتو موده** ........ 13
*۴. د اندیښنې ور ځانګړې مسئلې ........ 14*
**الف. د ښځو په خپل سر توقیف: د " له کور څخه تېښته" یا په زنا پیل** ........ 14
**ب ـ ځان سوزونې یا ځان وژنې ته اړ ایستل** ........ 15
**ج. "ناموسي وژنې"** ........ 16
**د. د ماشوم واده** ........ 17
**ه. د جنسي تیري د پیښو درملنه** ........ 17
**د طبي معایناتو ترسره کول** ........ 17
**د جنسي تیری له ازدواج بهر د جنسي اړیکو په توګه تور لګول** ........ 19
*۵. نتیجه ........ 19*
*۶. سپارښتنې ........ 21*

*انځور: یوناما/فریدون پویا*

## ۱. د راپور لنډیز

د افغانستان د ۲۰۰۹ کال د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د منع قانون د ښځو او نجونو د قانوني ساتنو د پیاوړتیا په هڅو کې د یوه مهم گام په څیر وستایل شو. د ۲۰۱۸ کال له سپتمبر راهیسې د ۲۰۲۰ کال تر فبروري پورې د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) د بشري حقونو د څانګې او د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د عالي کمیشنر د دفتر له خوا ترسره شوې څارنه په ډاګه کوي چې که څه هم د ښځو او نجونو پرضد د تاوتریخوالي په وړاندې چې د نوموړي قانون له خوا جرم ګڼل شوی، د عدلي سکتور غبرګون د ښه کیدو په حال کې دي، خو دغه سیستم له ګڼو اړخونو د ښځو او نجونو په ساتنه کې پاتې راغلی.

د ۱۸ میاشتو مودې په اوږدو کې، یوناما د ښځو او نجونو په وړاندې د تاوتریخوالي د جرمونو ۳۰۳ راپورونه مستند کړي. د دغې مستندونې موخه د راپور شویو جرمونو د قضایي اجراآتو څارل و څو معلومه شي چې ښځو او نجونو ته د عدلي سیستم له خوا د خسارې کوم جبران برابر شوی، په تیره بیا د دریو راتلونکو دولتي ادارو له خوا کومو ته چې د دغه ډول جرمونو په تړاو عدالت ته د ښځو د لاس رسي د ډاډمنولو دنده سپارل شوې: د ښځو د چارو ریاستونه، د لوي څارنوالۍ د تعقیب څانګړي څانګې (د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د منع قانون څارنوالان)، د افغان ملي پولیسو د کورنیو شخړو د حل و فصل څانګې (د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د منع قانون له ادارو سره یو ځای). یوناما همدارنګه دغو ادارو ته د ښځو او نجونو په وړاندې د تاوتریخوالي د راپور شویو جرمونو حجم څارلی څو په پراخه کچه معلومه کړي چې د څه ډول جرمونو په اړه راپور ورکړل شوي او د هغوي په اړه څه ډول اقدامات ترسره شوي. د معلوماتو پر راغونډولو د مشخصو محدودیتونو له امله، دا ادعا نه ده شوې چې دغه راپور په ټول هیواد کې د ښځو او نجونو په وړاندې د تاوتریخوالي جرمونو ته د عدلي سکتور له خوا د رسیدګي په اړه هر اړخیز معلومات برابروي.

د یوناما له خوا د ۳۰۳ مستند شویو قضیو له جملې څخه، یوازې نیمه یې (۴۹ سلنه) هغه یې بشپړ قضایي دوران طی کړی او په اړه یې د ابتدایي محکمې له خوا پریکړه شوې.[6] د مستند شویو قضیو د پام وړ شا و خوا ۱۷ سلنه هغه یې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د منع د قانون د ادارو له خوا له دې امله نه دي تعقیب شوي، چې یا خو د پېښې قرباني شکایت نه دی درج کړې او یا هم د وخت په تیریدو سره شکایت بیرته اخیستل شوی. د نوموړي قانون له مخې دغه کار تر ډیره جواز لري څرنګه چې په دې اړه داسې تصریح کوي چې له ۲۲جرمونو څخه ۱۷ هغه یې باید د قرباني یا د هغې د مدافع وکیل له خوا د درج شوي شکایت پر بنسټ تعقیب شي، او د دغه تعقیب هغه مهال په کلي ډول متوقف کیږي کله چې قرباني خپل شکایت بیرته اخلي. خو بیا هم، دغه کار پر انفرادي ښځو دغه درونډ مسؤولیت ږدي، څو د دې پرځای چې عدلي سیستم د هغوي په استازیتوب کار وکړي، هغوي باید هڅه وکړي سیستم په دې قانع کړي چې د دوي لپاره کار وکړي. د قرباني د نشتون له امله په بشپړ ډول د یوه جرم په څیړلو او عدلي تعقیب کې پاتې راتلل په څانګړي ډول د کم عمره ماشومانو د واده په قضیو کې د پام وړ دی، څکه د دې احتمال شته چې قربانیان ښایي په خپلواک ډول د دې وړتیا و نه لري چې له عدلي او قضایي سیستم څخه د رسیدګی په لټه کې شي.

> **که څه هم د عدلي سکتور له خوا د نوموړي قانون له مخې جرم ګڼل شوي تاوتریخوالی ته ځواب ویل د ښه کیدو په حالت کې دي، خو دغه سیستم د ښځو او نجونو یو شمیر قضیو ته په رسیدګی کې پاتې راغلی.**

د ۳۰۳ قضیو له جملې څخه، ۳۱ سلنه هغه یې د مختلفو نورو لاملونو لکه په دریو میاشتو کې[7] د شکمن تورن شخص په نیولو کې پاتې راتلل، یا د منځګړیتوب په څیر د غیر رسمي میکانیزمونو له لارې تر حل وروسته د قضیې د تړل کیدلو له امله د عدلي او قضایي سیستم له لارې نه دي حل شوي. له بلې خوا د مستند شویو قضیو د یوې فرعي ټولګې مفصلې ارزونې په ډاګه کړې چې یادې قضیې تر ډیره د هغو زماني مودو په دننه کې پروسس او رسیدګي شوي چې د ۲۰۱۴ کال د جزایي

[6] په افغانستان کې قضایي قوه له لومړي محکمې، استیناف محکمې (همدارنګه د دویم محکمې په نامه هم پیژندل کیږي) او سترې محکمې څخه تشکیل شوې. د افغانستان د اسلامي جمهوریت اساسي قانون، ۱۱۶ ماده.

[7] د منابعو د محدودیت له امله، یوناما هغه قضیې لا زیاتې نه دي تعقیب کړي چیرې چې تر دغې مودې وروسته نیونې نه دي ترسره شوي.

اجراآتو په قانون کې یې تصریح شوې او په عام ډول په څېړنو، عدلي تعقیب یا قضاوت کولو کې له بې ځایه ځنډ سره نه دي مخ شوي.

یوناما همدارنګه د ښځو او نجونو په وړاندې د تاوتریخوالي جرمونو ته په رسیدګي کې څرګندې ناکامۍ په ګوته کړي. د مثال په ډول، یوناما موندلې چې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د منع د قانون ادارو " له کور څخه تېښته" یا د زنا هڅه[8] د "اخلاقي جرمونو" په څېر ثبت کړي، په داسې حال کې چې لومړی هغه یې جرم نه ګڼل کیږي. یوناما دغه راز ۴۰ داسې قضیې مستندې کړې په کومو کې چې ښځې د تاوتریخوالي له امله ځان وژنې او ځان سوزولو ته اړ کړای شوي. په زیاترو دغو قضیو کې ښځو له خپلو کورنیو یا ټولنو څخه د مرستې د ترلاسه کولو هڅه کړې، خو د هغې په ترلاسه کولو کې پاتې راغلي. دا حقیقت چې ښځې احساس کوي چې له تاوتریخوالي څخه د تیښتې لپاره پر دغه ډول سختو کړنو د لاس پورې کولو پرته بله لار نه لري، پر عدلي سیستم څرګنده بې باوري او له تاوتریخوالي څخه د خلاصون لپاره د ملاتړ د نه شتون د ښځو انګیرل شوې یا واقعي تجربه په ډاګه کوي.

په داسې حال کې چې د یوناما له خوا راغونډ شوي معلومات په ډاګه کوي چې د تیرې څارې راهیسې د ښځو او نجونو د وژنو د قضیو لپاره د مرتکبینو د محکومیت کچې زیاتې شوې،[9] او د "ناموسي وژنو"[10] په نامه قضیې لا اوس هم دوام لري او په دې برخه کې د مرتکبینو محکومیت کچه ډېره ټیټه ده. دغه ډول قضیې هغه دوامدار باور په ډاګه کوي چې د کلتور، عنعناتو یا دیني معیارونو پر بنسټ د "کورنۍ د عزت" د بیا اعاده کولو لپاره ښځې ښایي له سزا سره مخ شي.

همدارنګه د جنسي تیري د قضیو څېړنه او عدلي تعقیب د دغه جرم په وړاندې د عدلي چارواکو د تګلارې په اړه جدي اندېښنې را ولاړوي. د یوناما له خوا راغونډ شوي معلومات په ډاګه کوي چې د جنسي تاوتریخوالي د شواهدو په برابرولو په ناندول ډول پر طبي ازموینې اتکا کیږي او دا چې له ښځو ښایي د دې غوښتنه وشي چې د هغوی د بشپړ رضایت پرته د دغو څېړنو ته غاړه ږدي. په ورته ډول دا هم د اندېښنې وړ ده چې د جنسي تیري یو شمیر راپور شوې قضیې د عدلي چارواکو له خوا له ازدواج بهر او د ښځې له رضایت سره د جنسي اړیکو درلودلو (زنا) په څېر ارزول شوي کوم چې د جزا د قانون له مخې جرم ګڼل کیږي، کوم چې له شک پرته د ښځو پر اراده څو د جنسي تیري په اړه راپور ورکړي، ډاروونکی اغیز ښیندي.

په افغانستان کې د کوویډ-۱۹ لومړۍ پېښې د ۲۰۲۰ کال په فبروري کې په ګوته شوې. له هغه وخت راهیسې د یوناما له خوا ترسره شوې روانه څارنه په ډاګه کوي چې د ښځو او نجونو په وړاندې د تاوتریخوالي قضیې زیاتې شوې، څرنګه چې هغوی د قضیو په راپور کولو او خوندیتوب ته په لاس رسي کې له ستونزو سره مخ دي. په ځانګړي ډول په دې زمینه کې، دا خورا مهمه ده چې د افغانستان اسلامي جمهوریت له تاوتریخوالي څخه د ښځو او نجونو د ژغورلو لپاره خپلو هڅو ته لومړیتوب ورکړي، عدالت ته د هغوی لاس رسی ډاډمن کړي او د دغو کړنو مرتکبین مجازات کړي. پرمختګ خورا سوکه خو واقعي و. دا خورا مهم ده چې په ګرندیتوب ادامه پیدا کړي.

---

[8] زنا یوه عربي اصطلاح ده چې د اسلامي شریعت له مخې د زوجیت له اړیکو څخه بهر د زنا عمل (د جنسي عمل د ترسره کولو) د تحریم لپاره کارول کیږي. زنا د اسلامي شریعت له مخې په حدودو کې شامل یو جرم ګڼل کیږي چې مجازات یې واجب او حتمي دي.

[9] د ۲۰۱۰ کال راهیسې، یوناما په ټول افغانستان کې د حکومت د هغو هڅو د څارلو له لارې چې د ښځو او نجونو په وړاندې د تاوتریخوالي پیښو ته رسیدګي کوي، په ځانګړي ډول د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د منع د قانون د تطبیق له لارې، دغه پیښې مستندوي. په ځانګړي ډول د یوناما/د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د عالي کمیشنر د دفتر، *د افغان میرمنو له نظره عدالت: د منځګړیتوب او محکمې د قضاوت له لارې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي حل شوې قضیې*، ۲۰۱۵؛ د یوناما/د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د عالي کمیشنر د دفتر، *بې عدالتي او معافیت: د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د جنایي جرمونو په اړه منځګړیتوب*، می ۲۰۱۸ راپورونه وګورئ، چې پر راتلونکې انټرنیټ پاڼه د لاس رسي وړ دي: https://unama.unmissions.org/women%27s-rights-reports.

[10] د دغه راپور د هدف لپاره، یوناما هغه وژنې د "ناموسي وژنو" په څېر ډلبندي کړي د کومو په اړه چې معلومات په ډاګه کوي چې شکمن مرتکب خپله میرمن او خپله ښځینه خپلوانه له خپل ناموس/عزت څخه د دفاع په موخه وژلې وي، د دغې ډول وژنې خصوصیات د افغانستان د ۱۹۷۶ کال د جزا په قانون کې وړاندې شوي وي. د ۲۰۱۸ کال د جزا قانون کې نور "ناموس/عزت" د وژنې لپاره د یوې مشروع دفاع په څېر نه دی شامل.

**د ښځو او نجونو پر وړاندې د راپور شویو جرمونو حل و فصل**




## ۲. میتودولوژي

دغه راپور د هیواد د هغې سر تا سري ځارنې پر بنسټ ولاړ دی کومه چې د یوناما له خوا د ۲۰۱۸ کال له سپتمبر راهیسې د ۲۰۲۰ تر فبرورۍ پورې ترسره شوې. یوناما د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د منع د قانون له مخې د اړوندو ادارو جرمونو او همدارنګه هغو وژنو ته ځواب ویل ځارلي کوم چې د ۲۰۱۸ کال د جزا د قانون له مخې جرم ګڼل کېږي.[11]

یوناما په منظم ډول په ټول هیواد کې په ولایتي مرکزونو کې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د منع د قانون له ادارو څخه لیدنې ترسره کړې څو دا وڅاري چې هغوی ته د یوې میاشتې په موده کې د ښځو او نجونو په وړاندې د تاوتریخوالي د څومره جرمونو په اړه راپور ورکړل شوي. یوناما دغه راز د ښځو او نجونو[12] په وړاندې د تاوتریخوالي د غوره شویو ۱۲ کړنو په

[11] د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د منع قانون د ښځو او نجونو په ضد ۲۲ کړنې جرم ګڼي. په افغانستان کې د ښځو او نجونو په وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو د حقوقي چوکاټ د مفصلې کتنې لپاره، د یوناما، *لا اوس هم پر مخ اوږده پراته لار: په افغانستان کې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د منع د قانون تطبیق*، ۲۰۱۲؛ یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر د دفتر، *د تګ لار: په په افغانستان کې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د منع د قانون د تطبیق په اړه تازه معلومات*، ۲۰۱۳؛ یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر د دفتر، *عدالت د افغان میرمنو له نظره: د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي هغه قضیې چې د منځګړیتوب او د محکمې د قضاوتونو له لارې ورته رسیدګي شوې*، ۲۰۱۵، یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر د دفتر، *بې عدالتي او معافیت: د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د جرمونو په اړه د منځګړیتوب ترسره کول*، مئ ۲۰۱۸ راپوروونه وګورئ چې پر راتلونکې انټرنیټ پاڼه د لاس رسي وړ دي: https://unama.unmissions.org/women%27s-rights-reports.

[12] د مثال په ډول: قتل؛ جنسي تیری؛ اجباري فحشاګري؛ د قرباني د پیژندګلوي ثبت او خپرول؛ سوځول یا د نورو کیمیاوي توکي یا د نورو خطرناکو موادو کارول؛ ځان ژوبلونې یا ځان وژنې ته اړ ایستل یا د زهرو او نورو خطرناکو توکو کارول؛ د ټپ یا معلولیت واردول؛ د واده په موخه یا پلمه پیر و پلور؛ په بدو کې ورکول؛ اجباري ازدواج؛ د ماشوم ازدواج؛ اجباري تجرید.

اړه مفصل معلومات راغونډ کړي څو په رسمي عدلي سيستم کې له دغو جرمونو سره تعامل په ښه ډول درک کړای شي، چې په پایله کې يې ټولټال ۳۰۳ قضيې مستندې شوي. له ټولټال مستند شويو قضيو څخه، يوناما ۷۸ قضيې په ژور ډول شنلي کومې چې تر لومړۍ محکمې پورې د رسمي عدلي سيستم له خوا حل شوي څوا دا و ارزوي چې د ښځو او نجونو په وړاندې د تاوتريخوالي د جرمونو په اړه د هغې زماني مودې سره سم اجراآت ترسره شوې چې د جزايي اجراآتو په قانون کې يې تصريح شوې.

که څه هم يوناما په سيستم کې د پايلو د پوهيدو لپاره د ښځو په وړاندې د تاوتريخوالي د منع د قانون له ادارو څخه د معلوماتو پر راغونډولو تمرکز کړی، په ځينو قضيو کې يې د ښځو او نجونو په وړاندې د تاوتريخوالي داسې جرمونه مستند کړي کوم چې عدلي سيستم ته نه وو راپور شوي، د مثال په ډول لکه کله چې يوه قرباني د پېښې په اړه مستقيم يوناما ته راپور ورکړی وي يا لکه دا چې دغه ډول جرمونو له رواني وسله والې جګړې سره تړاو درلود.

له افغان چارواکو سره له دوامدار ګډون او تعامل سره سره، ځيني وختونه د ښځو په وړاندې د تاوتريخوالي د منع د قانون ادارو نه غوښتل يا يې د دې توان نه درلود چې له يوناما سره معلومات شريک کړي. د مناسب ريکارډ د نه ساتلو او د ښځو په وړاندې د تاوتريخوالي د منع د قانون د ادارو ترمنځ د کمزورې همغږۍ او معلوماتو شريکولو له امله د معلوماتو راغونډول په ځانګړي ډول له خنډ سره مخ شوي. په مکرر ډول، يوناما د يوې قضيې په اړه د لومړنيو معلوماتو تر مستند کيدو وروسته له دې امله د هغې تعقيب ونه کړای شو چې يا خو د ښځو په وړاندې د تاوتريخوالي د منع د قانون د قضيې په ثبت کې پاتې راغلې وه يا هم له دې امله چې اړوندې اداري نور نه شول کولی څو اړونده دوسيه پيدا کړي. په لا پراخ ډول، نا امنيو او محدودو سرچينو يوناما له ننګونو سره مخ کړې وه او دا چې و يې نه شول کولی چې د ولسواليو په کچه د ښځو په وړاندې د تاوتريخوالي د منع د قانون له ادارو څخه معلومات راغونډ کړي. نو له همدې امله دغه راپور په ټول هيواد کې د ښځو او نجونو په وړاندې د تاوتريخوالي د جرمونو د راپور ورکوني او د عدلي ارګانونو له خوا هغوي ته د ځواب ويلو يوه بشپړه کتنه نه رانغاړي، يا يې هڅه نه کوي.

د معلوماتو د راغونډولو په اوږدو کې، يوناما د محرميت، نه مداخلې، نه لاس وهنې او د ټولو د پاسه د "ضرر نه رسولو" اصول رعايت او په پام کې نيولي.

## ۳. د ښځو او نجونو په وړاندې د تاوتريخوالي د جرمونو پروسس کول

د ۲۰۱۸ کال له سپتمبر راهيسې د ۲۰۲۰ کال تر فبروري پورې، يوناما د افغانستان په ۲۹ ولايتونو[13] کې د ښځو او نجونو په وړاندې د تاوتريخوالي ټولټال ۳۰۳ جرمونه مستند کړي او د هغوي په اړه يې د عدلي سيستم له لارې اجراآت د لومړۍ محکمې تر قضاوت پورې يا دا چې د نورو لارو چارو له لارې حل شوي، تعقيب کړي.[14] دغه جرمونه له راتلونکو هغو تشکيل شوي وو: د جنسي تيري د هڅې د اتو قضيو په ګډون، د جنسي تيري ۹۶ قضيې؛ د "ناموس" په نامه د ۲۲ ترسره شويو وژنو په ګډون، د وژنې ۷۳ قضيې؛ د ټپ يا معلوليت واردولو ۴۱ قضيې؛ د ځان سوزولو او ځان وژنو ته د اړ ايستلو ۴۰ قضيې؛ د اجباري ازدواج ۱۸ قضيې؛ د ماشومانو د ازدواج ۱۶ قضيې؛ د اجباري فحشاګرۍ شپږ قضيې؛ د سوځولو يا د

[13] د مثال په ډول: بدخشان (۱۲)؛ بادغيس (۱۲)؛ بغلان (۱۵)؛ بلخ (۱۱)؛ باميان (۳۵)؛ دايکندي (۱)؛ فارياب (۲۰)؛ غزني (۷)؛ غور (۷)؛ هرات (۶۹)؛ هلمند (۱)؛ جوزجان (۱۰)؛ کابل (۲)؛ کندهار (۲)؛ خوست (۲)؛ کونړ (۱۱)؛ کندز (۶)؛ لغمان (۴)؛ ميدان وردګ (۱)؛ ننګرهار (۲۳)؛ پکتيکا (۵)؛ پکتيا (۷)؛ پنجشير (۲)؛ پروان (۷)؛ سمنګان (۶)؛ تخار (۱۰)؛ اروزګان (۳)؛ زابل (۳). په هر ولايت کې د مستند شويو قضيو شمير تر ډيره د راپور شويو جرمونو د نوع او حجم له مخې هڅول شوي. يوناما هڅه کړې چې د ښځو په وړاندې د تاوتريخوالي د منع د قانون ادارو ته د ۱۲ غوره شويو راپور شوي جرمونه (پورته ياد شوي) تر هغې مستند کړي تر کومه چې منابعو او لاس رسي اجازه ورکړې.
[14] قضيې په عام ډول تر استيناف يا سترې محکمې پورې نه دي تعقيب شوي.

کیمیایي توکو یا نورو خطرناکو موادو د کاروني پنځه قضیې؛ په بدو کې د ورکړې څلور قضیې؛[15] د واده لپاره یا د واده په پلمه د پیر او پلور دوه قضیې؛ او د اجباري تجرید دوه قضیې.[16]

## الف. قربانیانو ته یوه کتنه

د یوناما له خوا د راغونډ شویو معلوماتو پر بنسټ، د تاوتریخوالي لږ تر لږه ۳۷.۳ سلنه قربانیان هغه نجونې وې چې عمرونه یې له تر ۱۸ کلنۍ کم وو (د ۸.۶ سلنه قربانیانو عمر معلوم نه و). پر دې سربیره د قربانیانو ۵۴.۸ سلنه واده شوې ښځې وې، ۲۹.۴ سلنه یې مجرده وې، ۴.۳ سلنه یې کونډې وې، په داسې حال کې چې ۱۱.۶ قربانیانو مدني حالت نه و معلوم. د قربانیانو یوازې ۱۰ سلنه یې هغه واده شوې نجونې وې چې عمرونه یې تر ۱۸ کلنۍ کم وو.

د راپورونو له مخې د قربانیانو یوازې ۱۹.۸ سلنه یې لوستې وې په داسې حال کې چې ۴۰.۶ سلنه هغه یې نالوستې وې؛ د قربانیانو د ۳۹.۶ سلنې د سواد نا معلوم و. په ځانګړې ډول د تاوتریخوالي د قربانیانو سواد په ځانګړې ډول د قضیو پر پایلو کوم څرګند د پام وړ اغیز نه درلود. په هغو قضیو کې چې قربانیان یې لوستې وو ۴۱.۷ سلنه مرتکبې او په هغو قضیو کې چې قربانیان یې نالوستې وو ۴۴.۷ مرتکبین مجازات شوي.

د یوناما له خوا د مستند شویو جرمونو ۳۷.۳ سلنه قربانیان هغې نجونې وې چې عمرونه یې تر ۱۸ کلنۍ کم وو. د راپورونو له مخې د مستند شویو قضیو د نږدې نیمه یې هغو مرتکبین د قرباني نږدې نارینه خپلوان وو.

## ب. تورنو مرتکبینو ته یوه کتنه

د مستند شویو قضیو په نږدې نیمه یې هغو کې، د تورن مرتکب په اړه خبر ورکړل شوي چې د قرباني نږدې نارینه خپلوان دی. د تاوتریخوالي په ۳۳.۳ سلنه قضیو کې اصلي تورن مرتکبین میړونه او تر هغوي وروسته پلارونه (۸.۹ سلنه) ګڼل شوي. ورونه، نامزادان او اوښې/لورونه د اصلي تورنو مرتکبینو ۷.۶ سلنه جوړوي. د ۲۵.۷ سلنه قضیو د قربانیانو او تورنو مرتکبینو ترمنځ اړیکه نا معلومه وه.[17]

د مستند شویو قضیو په ۶۶.۳ هغو کې تورن اصلي مرتکب نیول شوی.

## ج. د قضیو حل و فصل

یوناما د ښځو او نجونو په وړاندې د تاوتریخوالي د راپور شویو جرمونو پرمختګ د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د منع د قانون د ادارو له خوا د لومړۍ محکمې د قضاوت له امله د قضیې تر تړلو، د شاکي له خوا د قضیې د بیرته اخیستلو، یا په مناسبه موده کې د تورن مرتکب په نیولو کې د پاتې راتلو په څیر د حل تر نشتون پورې څارلی.

### د عدلي سیستم له خوا نهایي کول (لومړۍ محکمه)

د یوناما له خوا له ۳۰۳ مستند شویو قضیو څخه، نږدې نیمه یې – ۴۸.۸ سلنه – د لومړۍ محکمې له خوا حل و فصل شوي چې تورن مرتکبین په ۴۱.۳ قضیو کې مجازات شوي او په ۷.۶ هغو کې بریٔ الذمه شوي.

د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د منع د قانون له مخې په نوموړي قانون کې د مندرجو ۲۲ جرمونو له جملې د ۱۷ هغو عدلي تعقیب باید د قرباني یا د هغې د مدافع وکیل له خوا د درج شوي شکایت پر بنسټ وي او دغه عدلي تعقیب د شاکي له

---

[15] بد د کورنیو تر منځ د شخړې د حل لپاره د قتل، جنسي تیري یا نورو جرمونو د جبران لپاره د یوې ښځې یا نجلۍ "ورکولو" عمل ته وایي.
[16] د یوناما له خوا د قرباني د پیژندګلوۍ د ثبت او خپرولو هیڅ قضیه نه ده ثبت شوې.
[17] دا په لازمي ډول په دې مانا نه ده چې قرباني مرتکب نه پیژنده، بلکې له دې امله چې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د منع د قانون اداره په دغې نکته کې د ځینو قضیو په اړه د معلوماتو د وړاندې کولو وړ نه وه.

خوا د شکایت تر بیرته اخیستلو وروسته په بشپړ ډول پای ته رسیږي.[18] په دې برخه کې استثناآت په عمومي ډول راتلونکو پنځه "جدي" جرمونو ته راجع کیږي – جنسي تیری؛ اجباري فحشاګری؛ د قرباني د پیژندګلوي ثبت او خپرول؛ سوځول یا د کیمیایي توکو یا نورو خطرناکو موادو کارونه؛ او ځاني ژوبلې یا ځان وژنې ته اړ ایستل. په ورته ډول، د جزا قانون له مخې د قتل څیړنه او عدلي تعقیب د شکایت په درج کولو پورې اړه نه لري. د یوناما له خوا د مستند شوی دغو "جدي" جرمونو او قتل قضیو په تړاو، تورن مرتکبین په ۴۸.۲ سلنه قضیو کې مجازات شوي او ۹.۱ سلنه قضیو کې برئ الذمه شوي.

د یوناما له خوا د قتل د مستند شویو ۷۳ قضیو په تړاو، د ۶.۸ سلنه برئ الذمه په درلودو سره تورن مرتکبین په ۴۲.۵ سلنه قضیو کې مجازات شوي. سربیره پر دې، د "ناموس" په نامه ترسره شوي قتلونه (۲۲ قضیې) په جلا په پام کې نیول شوي، په دغو قضیو کې د مجازاتو کچه د نورو هغو قتلونو (۵۱ قضیې) د مجازاتو د ۵۱ سلنې په پرتله چې د "ناموس" په نامه نه دي ترسره شوي، د مجازاتو کچه ۲۲.۷ سلنې ته راپریوتې.

د یوناما له خوا د ۳۰۳ مستند شویو قضیو څخه یواځې نیمه یې هغه یې د بشپړې سلسلې له لارې د محکمې تر قضاوت پورې اجرا شوې.

د یوناما له خوا د جنسي تیري یا د جنسي تیري د هڅې د ۹۶ مستند شویو قضیو په تړاو، تورن مرتکبین په ۵۷.۳ سلنه قضیو کې مجازات شوي او په ۹.۴ سلنه هغو کې برئ الذمه شوي. د اجباري ځان سوزوني یا ځان وژنې په ۴۰ قضیو کې، ۴۲.۵ سلنه قضیې په محکومیت او ۷.۵ سلنه هغه په برائت تمامي شوي.[19]




---

[18] د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د منع د قانون ۳۹ ماده.

[19] یوناما د سوځولو یا د کیمیایي توکو یا نورو خطرناکو موادو (۵) او اجباري فحشاګری (۶) ټولټال ۱۱ قضیې مستندې کړې، دا د یوې مانا لرونکي نتیجګیری لپاره د نمونې یوه اندازه خورا کوچنۍ وه. څرنګه چې یې پورته یادونه وشوه، د یوناما له خوا د قرباني د پیژندګلوی د ثبت یا خپرولو هیڅ قضیه نه ده مستند شوې. په ورته ډول، یوناما د بدو (۴)، د واده په موخه یا د واده په پلمه (۲)، او اجباري تجرید (۲) خورا کم شمیر قضیې مستندې کړې، څو د مجازاتو د کچو په اړه یوې پایلې ته ورسیږي.

د یوناما له خوا د ترسره شوې تیرې څارنې په پرتله، داسې ښکاري چې د ښځو او نجونو په وړاندې د تاوتریخوالي د جرمونو لپاره د مجازاتو کچې مخ په لوړیدو دي.[20] دغه زیاتوالی ښایي په ټول افغانستان[21] کې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د منع د قانون سوکه خو ثابت پراخوالي او دغه راز دغو جرمونو ته د ښه شوې پاملرنې او د دولتي فعالینو ترمنځ غښتلې شوې همغږۍ ته منسوب شي، لکه په زیات شمیر ولایتونو کې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو د کمیسیون له خوا منظمې ناستې، څرنګه چې یې په اړه د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د منع د قانون له خوا تصریح شوې. د مدني ټولنې له خوا دوامدار او غښتلي د پوهاوي لوړول او ظرفیت جوړول هم د دغه تکامل او تطور یو ممکنه فکتور ګڼل کېدای شي.

په داسې حال کې چې د دغو اصلاحاتو هرکلی کیږي، ډیر څه باید ترسره شي څو ډاډمن شي چې ښځې او نجونې د تاوتریخوالي د جرمونو لپاره د عدالت شاهداني وي. د مثال په ډول، د یوناما له خوا ترسره شوې څارنه په ډاګه کوي چې د ښځو او نجونو په وړاندې د تاوتریخوالي جرمونه کوم چې په ټولنیز ډول او د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د منع د قانون د ادارو له خوا لږ جدي ګڼل کیږي، د مجازاتو کمې کچې لري او د دې زیات احتمال شته او د لاندې توضیح شویو مختلفو لاملونو له امله د عدلي سیستم له خوا له پامه وغورځول شي. د مثال په ډول، د ټپ یا معلولیت رامنځ ته کولو او د جبري ودونو د مستند شویو قضیو لپاره د مجازاتو کچې په ترتیب سره ۳۱.۷ سلنه او ۱۱.۱ سلنه وې.

**د شاکي له خوا د راپور شوې قضیې نشتون یا بیرته اخیستل**

په "ناموس" پورې د تړاو نه لرونکو وژنو د نیونې د ۶۰.۸ سلنې په پرتله د مستند شویو "ناموسي وژنو" یوازې ۳۱.۸ سلنه مرتکبین نیول شوي

څرنګه چې یې پورته یادونه وشوه، د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د قانون د ۳۹ مادې سره سم، په نوموړي قانون کې د مندرجو ۲۲ جرمونو له جملې د ۱۷ هغو عدلي تعقیب د قرباني یا د هغې د مدافع وکیل له خوا په درج شوي شکایت پورې اړه لري.

د یوناما له خوا د مستند شویو قضیو له جملې، ۱۷.۲ سلنه جرمونه یا خو نه وو تعقیب شوي یا هم د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د قانون د ۳۹ مادې له امله عدلي تعقیب متوقف شوی و. له ټولټال قضیو څخه په ۱۲.۹ سلنه هغو کې شاکي خپل شکایت بیرته اخیستی او له ټولټال قضیو څخه په ۴.۳ سلنه هغو کې عدلي تعقیب د قرباني د غیر حاضري له امله متوقف شوي.

د مثال په ډول د ۲۰۱۹ کال په سپتمبر میاشت کې، د راپورونو له مخې دوه سریو خپلې ۱۳ او ۱۴ کلنې لورګانې د میرمنو په څیر سره بدل کړې. لس ورځې وروسته، دغو نجونو له افغان ملي پولیسو سره خپل شکایت درج کړي او تورن مرتکبین په عین ورځ ونیول شول. د اکتوبر په نیمه یې کې، څارنوالی له دې امله دغه قضیه وتړله ځکه چې نجونو له خپلو میندو سره یو ځای خپل شکایت بیرته واخیست. تورن مرتکبین بیرته خوشې کړای شول.

د ۲۰۱۹ کال په جنوري میاشت کې، د راپورونو له مخې پر نشه یي توکو روږدو مور او پلار خپله ۱۲ کلنه لور د ۵۰۰۰۰ افغانیو او یوې غوا په بدل کې پر یوه سړي وپلورله چا چې یې د واده اراده درلوده. تر څرخلاو ۱۰ ورځې وروسته افغان ملي پولیسو د نجلۍ او هغه سړی چا چې پیسې ورکړې وې، دواړه ونیول. د فبروري په نیمه یې کې محکمې له دې امله دغه قضیه

---

[20] د ۲۰۱۴ کال د اګست او د ۲۰۱۵ کال د فبروري ترمنځ، یوناما د ښځو او نجونو په وړاندې د تاوتریخواي ۱۱۰ جرمونه مستند کړي وو او و یې مونده چې یوازې ۱۰ قضیو تورن مرتکبین مجازات شوي. د ۲۰۱۵ کال د اګست او د ۲۰۱۷ کال د ډسمبر ترمنځ یوناما د قتل او "ناموسي وژنو" ۲۸۰ قضیې مستند کړي چې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د منع د قانون ادارو ته یې راپور ورکړل شوی و. د قضیو یوازې ۱۸ سلنه مرتکبین یې مجازات شوي. یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر د دفتر، *عدالت د افغان میرمنو له نظره: د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي هغه قضیې چې د منځګړیتوب او د محکمې د قضاوتونو له لارې ورته رسیدګي شوې*، ۲۰۱۵، یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر د دفتر، *بې عدالتي او معافیت: د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د جرمونو په اړه د منځګړیتوب ترسره کول*، مۍ ۲۰۱۸ راپورونه وګورئ چې پر راتلونکي انټرنیټ پاڼه د لاس رسي وړ دي: https://unama.unmissions.org/women%27s-rights-reports.

[21] د ۲۰۲۰ کال د سپتمبر تر ۲۰ نېټې پورې، د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د منع د قانون څارنوالی د افغانستان په ټولو ۳۴ ولایتونو کې د دواړو لومړۍ او استیناف محکمو په کچه فعالیت کوي. د لومړۍ محکمې په کچه، له دغو ادارو د ۳۲ هغو مشري یې د ښځو له خوا کیږي. د افغان ملي پولیسو د کورنۍ د غبرګون واحدونه په ټولو ۳۴ ولایتونو کې فعال دي، چې له ټولټال ۴۴۲ کارمندانو څخه ۱۷۸ هغه یې ښځینه دي. د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د منع د قانون محکمې د افغانستان په ټولو ولایتونو کې د دواړو لومړۍ او استیناف محکمو په کچه تاسیس شوي.

باطله کړه چې نه هم نجلۍ او نه هم د هغې مدافع وکيل کوم شکايت درج کړی و. د راپورونو له مخې نجلۍ محکمې ته وويل چې نه غواړي کوم شکايت درج کړي، هغه يوازې د واده بطلان غواړي. تورن مرتکبين خوشې کړای شول.

د ښځو په وړاندې د تاوتريخوالي د منع د قانون اداري په ځانګړي ډول ځيني قضيې د شاکي د نشتون يا د شکايت د بيرته اخيستلو له امله نه تعقيبوي، که څه هم دغه مشخص جرم يو له هغو جرمونو څخه شمېرل کېږي چې د ښځو په وړاندې د تاوتريخوالي د منع د قانون له مخې د عدلي تعقيب وړ ګڼل کېږي. د مثال په ډول، د اجباري فحشا ۳۳.۳ سلنه قضيې، د جنسي تيري ۴.۲ سلنه قضيې او ځان ته‌پی کولو او ځان وژني ته د اړ ايستلو ۱۲.۵ سلنه قضيې له دې امله تر عدلي تعقيب لاندې نه وې نيول شوې ځکه چې شاکي خپل شکايت بيرته اخيستی.

په ورته ډول، د اجباري فحشاګرۍ ۱۶.۷ سلنه قضيې، د جنسي تير ۲.۱ سلنه قضيې او او ځان سوزولو او ځان وژني ته د اړ ايستلو ۵ سلنه قضيې د شاکي د غير حاضرۍ له امله تر عدلي تعقيب لاندې نه وې نيول شوې، له دې واقعيت سره سره چې څېړنې او عدلي تعقيب د شکايت شتون ته اړتيا نه درلوده.

د مثال په ډول، د ۲۰۱۹ کال د جولای مياشتې په وروستيو کې، يوې ۲۵ کلنې ښځې د خپلې خواښې د کلونو تاوتريخوالي له امله پر ځان تيل واړول او د ژوندي ځان سوځونې هڅه يې وکړه. هغه تر دغې پېښې ځلور يا پنځه ورځې وروسته روغتون ته يوړل شوه چې ستونی، سينه، ډډې، څنګلې او پښې يې سوځيدلي وو. په سپټمبر کې قرباني خارنوالۍ ته وويل چې هغه نه غواړي دغه قضيه مخ ته يوسي، ځکه چې هغې ويره درلوده چې مېړه به يې طلاق کړي، مور او پلار يې وفات وو او د تګ لپاره يې کوم ځای ځايګی نه درلود. د همدغه دليل له امله دغه قضيه د څارنوالۍ له خوا وتړل شوه.

### په نيونه او نهايي کولو کې پاتې راتلل

په ۱۵.۸ سلنه قضيو کې، افغان ملي پوليسو د لومړي شکايت تر ثبت درې مياشتې وروسته تورن مرتکبين نه دي نيولي.[22] د قتل په قضيو کې، افغان ملي پوليس په ۳۹.۷ سلنه قضيو کې د تورنو مرتکبينو په نيولو کې پاتې راغلي. که چيرې د "ناموسي وژنو" په نامه دوسيې په يوازې ځان په پام کې ونيول شي، افغان ملي پوليس د دغو قضيو په ۶۳.۶ سلنه کې د تورنو مرتکبينو په نيولو کې پاتې راغلي. د يادونې وړ ده چې د مستند شويو "ناموسي وژنو" په ۶۸.۲ سلنه کې تورن مرتکبين د قرباني نږدې نارينه خپلوان وو.

د يوناما له خوا راغونډ شوي معلومات په ډاګه کوي چې په نيونه کې د پاتې راتلو لاملونه مختلف وو خو ډيری وختونه انګيرل شوي، ځکه تورن مرتکب هغو سيمو ته تښتيدلی وي چې د دولت ضد عناصرو تر ولکې لاندې وي.

له بلې خوا ۱۲.۵ سلنه قضيې د مختلفو لاملونو له مخې نه وو نهايي شوي، لکه د عدلي فعالينو له خوا د دوسيې ورکيدل، د تورن مرتکب مړينه، يا يوناما ته د نورو نا څرګندو لاملونو له کبله.[23]

### غير رسمي حل

د يادونې وړ ده چې د مستند شويو قضيو يوازې درې سلنه يې له رسمي عدلي سيستم څخه بهر د شخړو د حل د دوديزو ميکانيزمونو يا د ښځو په وړاندې د تاوتريخوالي د منع د قانون د ادارو په منځګړيتوب حل شوې وې.[24] له نهو هغو قضيو

---

[22] د محدودو منابعو له امله، يوناما تر دې زيات هغه قضيې نه دي تعقيب کړي چيرې چې تر دغې مودې وروسته نيونې ترسره شوې.

[23] د څارنې د مودې په پای کې، د يوناما له خوا د ښځو او نجونو په وړاندې د تاوتريخوالي د جرمونو ۲.۶ سلنه لا اوس هم د عدلي سيستم له خوا تر اجراآتو لاندې دي.

[24] د ښځو په وړاندې د تاوتريخوالي د منع د قانون په ګډون، په افغان قانون کې داسې کوم صريح حکم شتون نه لري کوم چې په جنايي قضيو کې منځګړيتوب تعريفوي، اجازه ورکوي يا يې منع کوي.

څخه چې په دغې طریقې حل شوي، پنځه هغه یې د اجباري ازدواج، دوه هغه یې د ماشومانو د ازدواج، یوه هغه یې په بدو کې د ورکړې او یوه هغه د ټپ یا معلولیت اړولو قضیه وه. د دوه هغو په اړه د افغان ملي پولیسو؛ د دوه په اړه د ښځو د چارو د ریاست له خوا منځګړیتوب شوی؛ دوه هغه یې د عدلیې وزارت د حقوقو ریاست[25] ته استول شوي او په اړه یې منځګړیتوب شوی؛ د یوې هغې په اړه د څارنوالی له خوا منځګړیتوب شوي؛ او د دوه هغو په اړه له رسمي عدلي سیستم څخه بهر د قومي مشرانو له خوا منځګړیتوب شوي او تر هغې وروسته د قربانیانو له خوا نه دي تعقیب شوي.

د ۲۰۱۹ کال په فبروري میاشت کې، یوې ۲۵ کلنې ښځې له افغان ملي پولیسو سره اړیکه ونیول څو په دې اړه راپور ورکړي چې د واده د ۱۱ کلنې مودې په اوږدو کې د خپل میړه له خوا وهل او ټکول شوې. له پولیسو سره تر لیدنې مخکې په روغتون کې د هغې درملنې شوې کوم چې د هغې پر بدن د وهلو ټکولو نښې نښانې تایید کړې. کله چې وروسته پولیسو د "ټپ یا معلولیت اړولو" قضیې د تعقیبولو هڅه وکړه، قرباني هغوي ته خبر ورکړ چې نور نه غواړي خپل شکایت تعقیب کړي ځکه چې د هغې میړه له قومي مشرانو سره ژمنه کړې چې هغه به یې تر دې وروسته نه وهي.

د ۲۰۱۹ کال په اپریل کې، یوې ۳۵ کلنې ښځې د ښځو چارو ریاست ته شکایت وکړ چې د هغې تره هغه د خپل تره زوی ته د هغې له خوښې پرته واده کړې څو د هغې د پلار څوک چې پخوا ورک شوی، ملکیت تر لاسه کړي. دغه قضیه د حقوقو ریاست ته راجع شوې وه کوم چې د ښځې، د هغې د میړه او تره ترمنځ د یوه تړون په اړه منځګړیتوب وکړ چې له مخې به یې میړه هغې د طلاق تضمین کوي، په دې شرط چې هغه به د خپل میراث ادعا نه کوي.

د ۲۰۱۹ کال په جولای میاشت کې، یوه ۱۵ کلنه نجلۍ په ولسوالی کې له کور څخه وتښتېده او مرکزي ښار ته لاړه. هغه په یوه چیک پواینټ کې د افغان ملي پولیسو له خوا ودرول شوه او و یې مونده چې پښې یې له دې امله ټپي شوې چې مناسب بوټونه یې پر پښو نه وو. هغه توضیح کړه چې پلار یې غوښتل هغه په ولسوالی کې یوه سړي ته واده کړي نو هغې د دې لپاره چې د واده مخه ونیسي، پرته له دې چې له خپل کور څخه وتښتي بل انتخاب نه درلود. دغه نجلۍ د پولیسو مرکز ته یوړل شوه چیرې چې هغه هلته د ۱۶ ورځو لپاره تر هغې پاتې شوه ترڅو چې مور، خور او ورور راغلل او هغه یې له ځان سره یوړه. د نجلۍ کورنۍ د افغان ملي پولیسو او د ښځو چارو د ریاست د استازي په شتون کې یوه موافقه لاس لیک کړه چې د هغې په واده کې د نجلۍ انتخاب په پام کې ونیسي او بیا یې نجلۍ له خپلې کورنۍ سره پرېښوده. د یوناما له خوا پخوانۍ څارنې په ډاګه کړې چې د ښځو او نجونو په وړاندې د تاوتریخوالي د جرمونو د پام وړ برخې په اړه د غیر رسمي عدلي سیستم له خوا منځګړیتوب ترسره شوی.[26] د دغې میتودولوژي له مخې د مستند شویو قضیو د منځګړیتوب ټیټه کچه ښایي دا څرګنده کړي چې د ښځو او نجونو په وړاندې د تاوتریخوالي هغه جرمونه چې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د منع د قانون د ادارو له خوا د زیاتو جدي هغو په څیر پیژندل شوي لکه د قتل او جنسي تیري جنایي جرمونه، د دې زیاته شونتیا لري چې د عدلي سیستم له خوا ثبت او تر عدلي تعقیب لاندې ونیول شي.

د خپلې څارنې له لارې یوناما وموندل چې هغه قضیې چې لږ جدي ګڼل کیدې لکه د وهلو یا ځورونې په څیر دجنحې د جرمونه دې زیاته شونتیا لري چې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د قانون د ادارو له خوا یې په اړه منځګړیتوب وشي یا له سره ثبت نه شي.

څرنګه چې یوناما تقریبا په ځانګړي ډول معلومات د رسمي عدلي سیستم له فعالینو څخه راغونډ کړي څو د دغه سیستم فعالیت په غوره ډول درک کړي، د دې شونتیا آن احتمال شته چې دغو فعالینو یوناما ته د هغو قضیو په اړه معلومات نه وي ورکړي، د کومو په اړه چې منځګړیتوب ترسره شوی.

---

[25] د حقوقو ریاست په کابل کې موقعیت لري او د ملکي اجراآتو د قانون او د حقونو د کسب د قانون له مخې د حقیقي او حقوقي اشخاصو له پورونو، ملکیتونو او کورنیو څخه را ولاړیدونکې شخړې حل کوي. د حقوقو د ریاست ولایتي دفترونو د افغانستان په ټولو ۴۳ ولایتونو کې شتون لري.

[26] د مثال په ډول، د یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر د دفتر، *بې عدالتي او معافیت: د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د جرمونو په اړه د منځګړیتوب ترسره کول*، مئ ۲۰۱۸ راپور وګورئ چې پر راتلونکې انټرنیټ پاڼه د لاس رسي وړ دي: https://unama.unmissions.org/women%27s-rights-reports.

## د. د قضیې د اجراآتو موده

یوناما د عدلي سیستم له خوا د ښځو او نجونو په وړاندې د تاوتریخوالي د ۷۸ نهایي شویو جرمونو ژور تحلیل ترسره کړی څو معلومه کړي چې آیا د اړوندو قانوني مودو سره سم اجرا او پروسس شوي.

په اوسط ډول د تاوتریخوالي د رامنځ ته کیدو او د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د منع د قانون اداري ته د لومړي راپور ترمنځ ۳۴.۴ ورځې تیرې شوې. له دې سره سره نهو قضیو له ۲۵ ورځو څخه د زیاتو ورځو د راپور ورکولو اوږدې موده درلودې؛ کله چې دغه قضیې ورڅخه و ایستل شي د راپور ورکولو وخت ۲.۳ ورځو ته راپریوځي. په ۷۹.۵ سلنه قضیو کې د ښځو او نجونو په وړاندې د تاوتریخوالي جرمونه تل په ابتدایي ډول د افغان ملي پولیسو د کورنۍ د غبرګون واحدونو ته راپور شوي. په ۷.۷ سلنه قضیو کې، د پیښې په اړه په مستقیم ډول څارنوالی او په ۵.۱ سلنه هغو کې د ښځو چارو ریاست ته راپور ورکړل شوی.

د جرم تر ثبت وروسته، د افغان ملي پولیسو د کورنۍ د غبرګون واحدونو لپاره یې په اوسط ډول ۷.۳ ورځې وخت نیولی څو تورن مرتکب ونیسي. د جزایي اجراآتو د قانون له ۸۷ مادې سره سم، افغان ملي پولیس باید د نیونې د ۷۲ ساعتونو (درې ورځو) په دننه کې تورن شخص وسپاري او دوسیې یې څارنوالی ته برابره کړي. په هغو قضیو کې چې د یوناما له خوا مستندې شوې، له نیونې له نېټې څخه دغه کار د افغان ملي پولیسو لپاره په اوسط ډول شپږ ورځې وخت نیولی څو قضیه د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د منع د قانون څارنوالی ته راجع کړي – د هغې موده دوه برابره زیات وخت چې د جزایي اجراآتو په قانون کې توضیح شوې. په ځینو وختونو کې ځنډ له دې امله رامنځ ته شوي ځکه چې افغان ملي پولیسو قضیه په عدلي سلسله مراتبو کې یوې ناسمې ادارې د مثال په ډول د ولسوالی څارنوال ته راجع کړې، کومې چې بیا وروسته هغه د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د منع د قانون څارنوالی ته راجع کړې.

د جزایي اجراآتو د قانون له ۱۰۰ مادې سره سم، څارنوالي کولی شي چې د جنحې جرمونو لپاره تورن شخص له محکمې مخکې د اوو ورځو لپاره او د جنایت جرمونو لپاره د ۱۵ ورځو لپاره په توقیف کې وساتي څو خپلې څېړنې بشپړې او اتهام نامه چمتو کړي. د لومړۍ محکمې په اجازه له محکمې مخکې د توقیف موده کیدای شي د جنحه جرمونو لپاره د ۲۰ ورځو اعظمي حد او د جنایت جرمونو لپاره د ۶۰ ورځو لپاره تمدید شي. د یوناما له خوا د مستند شویو شپږو جنایي جرمونو په تړاو، د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د منع د قانون د څارنوالو لپاره په اوسط ډول ۳۶.۲ ورځې وخت ونیوه څو قضیه لومړۍ محکمې ته راجع کړي.[27]

د جزایي اجراآتو د قانون له ۱۰۱ مادې سره سم، لومړۍ محکمه کولی شي تورن شخص د حد اعظم ۳۰ ورځو لپاره په توقیف کې وساتي. د یوناما له خوا په مستند شویو قضیو کې لومړۍ محکمې د څارنوالی له خوا د قضیې تر ارجاع وروسته د حکم تر صادرولو پورې په اوسط ډول ۲۶.۲ ورځې وخت نیولی.

په عمومي ډول، د یوناما له خوا د ښځو او نجونو په وړاندې د تاوتریخوالي ۷۸ ارزول شوي جرمونه – له ابتدایي شکایت څخه د محکمې تر پریکړې پورې – په اوسط ډول په ۷۶ ورځو کې پروسس او اجرا شوي. که څه هم د قضیې د اجراآتو او

[27] د یوناما له خوا د ښځو او نجونو په وړاندې د تاوتریخوالي په تحلیل شویو جرمونو کې راتلونکي هغه شامل دي: قتل، جنسي تیری، اجباري فحشاګیري، سوځول یا د کیمیایي توکو یا نورو خطرناکو موادو کارول، د واده په موخه یا پلمه پیر و پلور؛ په بدو کې ورکول. یوناما دغه راز د ښځو او نجونو په وړاندې د تاوتریخوالي د جنحې دوه جرمونه تحلیل کړي، اجباري ازدواج او د ماشوم ازدواج. یوې مهمې پریکړې ته د رسیدو لپاره د نمونې اندازه خورا کوچنۍ وه. یوناما همدارنګه د ځان ژوبلې یا ځان وژنې ته د اړ ایستنې یا سوځول یا د کیمیایي توکو یا نورو خطرناکو موادو کارولو او د ټپ یا معلولیت واردولو قضیې مستندې کړي. دغه اعمال کیدای شي د جنایي یا جنحې جرمونو په څیر وشمیرل شي چې د قضیې په واقعي شرایطو پورې اړه لري؛ یوناما کافي معلومات نه درلودل چې په هره قضیه کې دغه پریکړه وکړي او له همدې امله یې دغه قضیې په دغه مټریک نه دي تحلیل کړي. د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د منع د قانون د ۳۱ مادې پر بنسټ د اجباري تجرید جرم تر دریو میاشتو د کمې مودې لپاره د حبس مجازات کیدای شي. څرنګه چې د حبس د دغې مودې په اړه د جزا په قانون کې نه دي تصریح شوي (۲۸-۳۱، ۱۴۶ او ۱۴۷ مادې وګورئ)، د هغې ډلبندي کول څرګند نه دي.

پروسس مودې تر ډېره د جزايي اجراآتو د قانون تابع دي، د ښځو په وړاندې د تاوتريخوالي د منع د قانون اداري باید هڅه وکړي څو ډاډمن کړي چې عدالت له کوم ځنډ پرته ټولو خواوو ته رسیدلی.

# ۴. د اندېښنې وړ ځانګړي مسئلې

د خپلې څارنې په ټول بهیر کې، یوناما د اندیښنې وړ ځانګړې مسئلې په ګوته کړي چې د ښځو پروړاندې د تاو تریخوالي پر ضد ارګانونه څرنګه راپور شوي قضیې او په پراخه کچه د یادو جرمونو لپاره عدالت ته د ښځو لاسرسی ته، رسیدګي کوي. پداسې حال کې چې د یادو مسئلو په تړاو یو شمیر پرمختګونه ترسره شوي، ډیری یې اوږدمهاله دي او د یوناما او نورو فعالینو لخوا په پرله پسې ډول مطرح شوي چې یادې مسئلې عاجل او سمدستي رسیدګې ته اړتیا لري[28].

## الف. د ښځو په خپل سر توقیف: د " له کور څخه تېښته" یا په زنا پیل

د څارنې سربیره چې د ښځو او انجونو په وړاندې د تارتریخوالي څومره جرمونه د ښځو پر وړاندې د تاو تریخوالي له منځه وړلو د ادارو لخوا ثبت شوي دي، یوناما همدارنګه د هغو "اخلاقي جرمونو" په اړه چې ګواکې د ښځو لخوا ترسره شوي کوم چې د دغو فعالینو لخوا ثبت شوي، معلومات راټول کړي.

د یادونې وړ ده، د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د منع دری ګونو ارګانونو راپور ورکړی چې هر یو یې د ښځو په وړاندې "له کور څخه تیښتې" قضیې ثبت کړې: ۱۵۹ دا ډول قضیې د ښځو چارو ریاست لخوا ، ۱۲۸ قضیې د ملي پولیسو د کورنۍ د ملاتړ څانګې لخوا ، او ۹ قضیې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالی له منځه وړلو د څارنوالي لخوا ثبت شوې دي. له واده نه غیر جنسي اړیکو (زنا) قضیې کوم چې د جزا قانون ۶۴۳ (۱) مادې له مخې جرم ګڼل شوي او د زنا د هڅې قضیې هم ثبت شوې دي. د ښځو چارو ریاست د زنا یا د زنا د هڅې ۱۵ قضیې ثبت کړې، همدارنګه د زنا یا د زنا د هڅې ۳۵ قضیې د افغان ملي پولیسو د کورنیو شخړو د حل و فصل څانګې لخوا او ۶ قضیې د لوي څارنوالی د تعقیب ځانګړي څانګې ثبت شوې دي.

"له کور څخه د تیښتې" په نامه کوم عمل په افغانستان کې جرم ندی. خو، کله چې ښځې او انجونې د محرم[29] له اجازې پرته خپل کورونه پریږدي ، یا خپلو کورنیو ته د دوی د ځای په اړه معلومات نه ورکوي، نو ځینې وختونه دوی له کوره څخه د تیښتې په تړاو نیول کیږي او په زنا د پیل تور پرې لګول کیږي. په زنا پیل د جزا په قانون کې جرم ګڼل شوی ندی مګر احتمال لري د ۶۴۳ (۱) او ۴۷ مادو په ترکیب سره متهم شي، کوم چې په جرم پیل یې منع کړې.

"له کور څخه د تیښتې" په تړاو د ښځو د تورنولو په اړه د قضایي ارګانونو لخوا یو شمیر لاربنوونې صادرې شوې دي. د ۲۰۱۲ په اپریل کې، لویې څارنوالی یو لاربنود څارنوالانو ته صادر کړ چې ښځې باید "له کور څخه د تیښتې" په تور متهم نشي ځکه چې دا د هیڅ کوم قانون په اساس جرم نه دی. لیکن، لاربنود زیاته کړې چې د جرم کولو لپاره تیښته یو استثنا ده. دغه مهبم توپیر ددې امکان لپاره لاره پرانیزي ترڅو ښځې په زنا د پیل په تور متهم کړې کله چې هغوی خپل کور پرته له کوم محرم[30] څخه پریږدي.

ستره محکمه په ورته ډول په د یادې موضوع په اړه یو شمیر مبهم بیانونه صادر کړې. د مثال په توګه، د ۲۰۱۲ په دسمبر کې، سترې محکمې د لویې څارنوالی دفتر ته په یوه مکتوب کې ویلي چې د کورني تاو تریخوالي څخه د خلاصون لپاره له کور څخه تیښته او د قضایي ارګانونو، حقوقي مرستندویه سازمانونو یا خپلوانو څخه مرسته غوښتل جرم نه دی. لیکن، یاد

---

28 د بیلګې په توګه، د ښځو پروړاندې د تبعیض د لمنځه وړلو د کمیټې، د افغانستان په اړه دریم دوراني راپور کې نهایي ملاحظات CEDAW/C/AFG/CO3، د ۲۰۲۰ کال مارچ ۲؛ په افغانستان کې د ښځو او انجونو وضعیت په اړه د ښځو په وړاندې د تاوترخوالي، د هغې د علتونو او دریځونو په هکله د اسان د حقونو په تړاو د کمیسیون د ځانګړي ګزارشګر راپور، A / 58/421 ، ۲۰۰۳د اکتوبر ۶ نیټه، وګورئ.

29 د ښځې میره، یا د هغې نږدې نارینه خپلوان (د مثال په توګه، پلار، ترونه، ماماګان ، میندې او ویرونه) چې ورسره د شریعت قانون سره سم واده کول منع شوی دی.

30 د لوی څارنوال دفتر عاجل مکتوب شمیره ۹۲/۲۰۲، ۲۰۱۲ کال اپریل ۱۱ نیټه. د یوناما د بشري حقونو څانګی په سندونو کې شتون لري.

مکتوب کې دا هم ویل شوي چې له تاوتریخوالي ځخه د خلاصون پرته د بل دلیل لپاره له کور څخه د "تېښتیدلو" سره باید بل ډول چلند وشي او باید تر عدلی تعقیب لاندې راشي[31].

یوناما بیا ټینګار کوي چې "له کور څخه تیښته" یا په زنا د ډیل لپاره د ښځو توقیف یا عدلي تعقیب د افغانستان د بشر د حقونو د نړیوالو مکلفیتونو سره مطابقت نه لري. دا عمل په ځانګړي ډول د میرمنو پروړاندې تبعیض دي او د قانون په وړاندې د دوی د خوځښت ، خصوصي ژوند، او د قانون پروړاندې د برابري د حقونو څخه جدي سرغړونه ګڼل کیږي[32].

"له کور څخه تیښته" یا په زنا د ډیل لپاره د ښځو توقیف یا عدلي تعقیب د ښځو له بشري حقونو څخه جدي سرغړونه ده.

## ب - ځان سوزونې یا ځان وژنې ته اړ ایستل

یوناما د تاوتریخوالي له امله ۴۰ قضیې ثبت کړې چې په ترڅ کې یې ښځې ځان وژنې یا ځان سوزونې ته اړ ایستې دي. لکه څنګه چې پورته یادونه وشوه، د یادو قضیو ۴۲.۵ سلنه د محکومیت کچې ته رسیدلې. خو، په ډیری مواردو کې، د راپورونو له مخې دغه ښځې ځان ته د زیان رسولو یا خپل ژوند اخیستو دمخه د کلونو کلونو تاوتریخوالي زغملی ده. د دې ښځو لپاره عدالت باید ډیر دمخه ترسره شوې وای.

د ۲۰۱۸ په اکتوبر کې، یوې ښځې په خپل کور کې د ټوپک په وسیله خپل ځان وواژه. د قرباني خپلوانو راپور ورکړ چې هغه پنځه کاله دمخه په بدل کې واده ورکړل شوی و او بیا وروسته د هغې د میړه لخوا څو څو ځله وهل شوې وه. یو ځل، د هغې کورنۍ هغه د تاوتریخوالي له امله بیرته خپل کور ته بوتله. د هغې میړه بیا د قومي مشرانو سره راغله او ژمنه یې وکړه چې د تاوتریخوالي مخه ونیسي او یاده ښځه بیرته خپل کور ته لاړه. د شواهدو د نشتوالي له امله، ابتدایی محکمې د هغې میړه ته برائت ورکړ. په استینافي مرحله کې، دویمې محکمې د ښځې میړه په ۶ کلن حبس محکوم کړ.

د ۲۰۱۹ کال په اپریل کې، یوه ۲۴ کلنه ښځه ځان په خیټه کې په ډزو وویشته او مړه شوه. د راپورونو له مخې، هغه دوه کاله دمخه په بدل کې واده شوه او د هغې د خواښې او خُسر لخوا دوامداره تاوتریخوالی سره مخ و. د پیښې دمخه، یادې ښځې د خپل میړه کور پریښود او د مور او پلار کور ته ستنه شوه. بیا د هغې میړه، چې په ایران کې یې کار کاوه، هغې ورته زنګ وواهه، هغه یې وګواښله او ورته یې وویل چې ژر تر ژره بیرته راستنه شي. بیا هغې ځان وواژه. ورسته له دې چې د هغې د قضیې پوښتنه وشوه، د ملي پولیسو د کورنۍ غبرګون څانګې یوناما ته راپور ورکړ چې هغوی ونشو کولی د هغې د قضیې دوسیه ومومي.

د ۲۰۱۸ کال په جون میاشت کې، د راپور له مخې یوې ۲۰ کلنې مور د خپل میړه او خواښې او خُسر په لاس د کلونو کلونو جدي تارتریخوالي له امله خپل ژوند پای ته ورسو. یوځل، د وهلو ټکولو په پایله کې د هغې پینې ماته شوې وې. دغه ښځه د طالبانو تر کنټرول لاندې سیمه کې اوسېده، سره له دې چې د ځايي طالب مشرانو د مرستې غوښتنه یې کړې وه، خو هغه بیرته د خپل میړه کور ته استول شوې وه.

دا ډول قضیې او ورته نورې قضیې چې د یوناما لخوا مستند شوي دي، د تاو تریخوالي پر وړاندې د ښځو خوندیتوب او عدالت د لاس رسي په اړه جدي اندیښنې راپورته کوي. دا روښانه ده چې ډیری ښځې احساس کوي چې دوی د ځان زیان رسولو یا

---

31 د ستري محکمې مکتوب شمیره ۸۲۰/۳۲۷، د ۲۰۱۲ کال د دسمبر ۳۱ نیټه. د یوناما د بشري حقونو څانګې په اسنادو کې شتون لري. د دې مسئلې د نورو تفصیلي بحثونو لپاره وګورئ : د یوناما/د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د عالي کمیشنر د دفتر، د تلو یوه لاره: په افغانستان کې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي مخنیوي قانون پلي کولو په اړه تازه حال، ۲۰۱۳. په لاندې لینک کې شتون لري: https://unama.unmissions.org/women%27s-rights-reports.

32 د ښځو پروړاندې د تبعیض د ټولو ډولونو له منځه وړلو کنوانسیون (و)۲ ماده، (۱) ۱۵ ماده او (۴) ۱۵ ماده؛ ، د سیاسي او مدني حقونو نړیوال میثاق ۲، ۳، ۱۲، ۱۴ او ۱۷ مادې؛ د ملګرو ملتونو د بشري حقونو کمیټه، عمومي تبصره شمیره ۲۸: ۳ ماده (د نرانو او ښځو ترمنځ د حقونو برابری)، CCPR/C/21/Rev.1/Add.10، ۲۰۰۹ کال د مارچ ۲۹، ۱۴ او ۱۶ فقرې. همدارنګه د یوناما/د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د عالي کمیشنر د دفتر، د تلو یوه لاره: په افغانستان کې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي مخنیوي قانون پلي کولو په اړه تازه حال، ۲۰۱۳؛ د یوناما/د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د عالي کمیشنر د دفتر، عدالت د افغان میرمنو سترګو له لارې: د ښځو په وړاندې د تاو تریخوالي قضیې چې د مینځګړیتوب او محکمې د پریکړو له لارې حل شوې، ۲۰۱۵ کال. دغه سند په لاندې لینک کې شتون لري: https://unama.unmissions.org/women%27s-rights-reports.

ځان وژنې سخت عملونو پرته د تاوتریخوالي څخه د خلاصون لپاره هیڅ بل مناسب انتخاب نلري. دا د ځانګړې اندیښنې وړ خبره ده چې په ځینو قضیو کې د کورنۍ یا ټولنې غړي د تاوتریخوالي څخه خبر دي مګر د کافي مرستې وړاندیز نه کوي، چې احتمالاً په ښځو کې دا احساس پیاوړی کوي چې هغوی هیڅ بل ځای نلري چې ورته مراجعه وکړي. دا پیښې پر رسمي عدلي او قضایی سیستم باندې د ژور بې اعتمادۍ ګواهي ورکوي.

## ج. "ناموسي وژنې"

یوناما د قتل ۲۲ قضیې ثبت کړي چې د " ناموس " تش په نامه د لاملونو په وجه ارتکاب شوي دي. د یاد شمیر قضیو څخه په ۱۵ قضیو کې، ادعا شوی مرتکب د کورنۍ نږدې نارینه غړی و. ناموس اوس د جزا کوډ[33] پر اساس د قتل قضیو لپاره د مخففه عاملونو په حیث نه ګڼل کیږي، چې یو ښه پرمختګ دی. لیکن، د یاد عمل دوام د ټولنې د ځینو غړو تر منځ ثابته باور په ګوته کوي چې د کلتوري، دودیز، یا مذهبي نورمونو او ټولنیز نورمونو د یوالي د ساتلو یا اعاده کولو لپاره ښځې د مجازاتو لاندې نیول کیدی شي. لکه څنګه چې پورته یادونه وشوه، په ډیره ټیټه کچه مستند شوي "ناموسي وژنې" (۲۲.۷ سلنه) د محکومیت سطحې ته رسیدلې، حال دا چې هغو قتلونو د محکومیت کچه (۵۱ سلنه) چې "ناموس" سره تړاو نلري خورا لوړه ده.

د ۲۰۱۸ کال په مارچ میاشت کې، یوه ۱۷ کلنه نجلۍ له کور څخه د تیښتې په تور د ملي پولیسو لخوا نیول شوې وه او په نهه میاشتو حبس باندې محکومه شوې وه. د خوشې کیدو څخه وروسته، هغه د ښځو د ساتنې مرکز ته واستول شوه او بیا یې مور او پلار ته وسپارل شوه. داسې ادعا کیږي چې د هغې ورور له خوشې کیدو څخه یوه ورځ وروسته هغه ووژله. ملي پولیسو ونشوای کړای چې تورن مرتکب ونیسي.

د ۲۰۱۹کال په اکتوبر میاشت کې، یوه ۱۶ کلنه انجلۍ د تاوتریخوالي له امله له کوره وتښتېده او دا څکه چې د هغې کورنۍ هغه د هغې له رضایت پرته کوژده او واده کولو ته اړ کړې وه. دغه انجلۍ د محلي پولیسو په یوې پوستې کې ودرول شوه او وروسته بیرته خپلې کورنۍ ته واستول شوه. یوه ورځ وروسته له یادې پیښې، داسې ادعا کیږي چې د هغې پلار هغه په ډزو ویشتلې او وژلې یې ده. د افغانستان ملي پولیسو یوناما ته راپور ورکړی چې هغوی نشي کولی یاد مرتکب ونیسي.

د ۲۰۱۹ کال په اپریل کې، د ادعا له مخې، یوه ۲۸ کلنه ښځه د هغې د ورور او د کاکا زوی لخوا وژل شوې وه. د راپورونو له مخې دې دوی هغه د خپل ملګري (هلک) سره په موټر کې ناسته لیدلې وو. په هماغه ماښام کې، د ادعا له مخې دوی هغه د هغې د پلار په کور کې په قتل ورسوله. دوی په پای کې له سیمې تښتیدلي او ملي پولیسو ونشو کوالی دوی ونیسي. د قرباني ملګری (هلک) د لنډې مودې لپاره توقیف شوی و خو په کوم تور متهم نشو.

د ۲۰۲۰ کال په جنوري میاشت کې، یو سړي خپله ۱۴ کلنه لور او یو ۱۶ کلن هلک د جنسي اړیکې درلودو په تور وژلې. دغه سړی، چې یو مشهور ځایی جنګسالار دی، د هلک د مور او پلار کور ته لاړ او د پیسو غوښتنه یې وکړه او دا چې د یادې اړیکې د جبران لپاره خپلې لورګانې هغه (جنګسالار) ته په بد کې ورکړل شي. د هلک مور او پلار دا اړیکه رد کړه او ویې ویل چې دوی پیسې نه درلودې چې هغه ته یې ورکړي، خو، په بد کې به یوه لور ورکوي. هغه (جنګسالار) دا ونه منله او هلک یې بیرته خپل کور ته یوړ ، چیرې چې هغه او د خپله لور یې د ناریه وسلو او تبرګي په وسیله ووژل. دغه سړی د ملي پولیسو لخوا نیول شوی وو، خو وروسته د راپورونو له مخې د ولسوال او د ولسوالۍ د پولیسو د قومندان ترمنځ د مینځګړیتوب له امله خوشې شوی دی.

[33] د ۱۹۷۶ کال د جزا قانون په ۳۹۸ ماده کې راغلي چې یو څوک چې د خپلې ناموس د دفاع لپاره خپله میرمن یا خپل خپلوان ووژني یا ټپي کړي، د قتل او یا د ټپي کولو په جرم نه مجازات کیږي، مګر پرځای یې باید بند محکوم شي چې ۲ کلونو څخه زیات نه وي. پداسې حال کې چې د ۲۰۱۸ جزا قانون په ۱۲۵ او ۱۲۶ مادو کې ناموس یې د "مشروع" دفاع په توګه ذکر، خو ۱۲۹ مشخص کوي چې مشروع دفاع د قتل په قضیو کې د تطبیق وړ ندي، مګرد ځینې ټاکل شوي شمیر عملونود دفاع په کې چې د ناموس ساتنه پکې شامل ندي.

## د. د ماشوم واده

یوناما د ماشوم د ودونو ۱۶ قضیې ثبت کړي دي[34]. یوازې په یوه قضیه کې مرتکب په جزا محکومیت شوی. شپږ قضیې د شکایت کونکي لخوا بیرته راخیستل شوي او درې قضیې د شکایت کوونکي د نه شتون له امله تعقیب نشوې، لکه څنګه چې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د منع په قانون کې تاکل شوي ده. همدارنګه، یو تورن مرتکب ته برائت ورکړل شو، دوي قضیې د منځګړیتوب له لارې حل و فصل شوې ، په دوه قضیو کې تورن مرتکب د شکایت په درېو میاشتو کې و نه نیول شوی، او یوه قضیه یې د نورو دلایلو له امله حفظ شوه.

> **د ماشوم واده جدي فزيکي او رواني زيان ته په پام سره، دا جرم بايد پرته له کوم شکايت څخه تر عدلي تعقيب لاندې ونيول شي.**

یوناما دا هم وموندله چې د ماشومانو لوی شمیر ودونه د انجونو کورنیو لخوا تنظیم شوي او یا د هغوی لخوا زغمل شوي. دا تمه کول غیر واقعبینانه ده چې انجونې به پخپله، ځوک چې زیانمنې او پرته له سرچینو څخه وي، پدې موقف کې وي چې د عدلي اوقضايي اداره سره شکایت ثبت کړي یا د کورنی او ټولنیز فشار پر وړاندې مقاومت وکړي ترڅو د جزايي رسيدګی په بشپړ دوران کې له شکایت څخه انصراف ونکړي. د ماشوم واده له امله د سخت فزيکي او رواني زيان په پام کې نیولو سره[35]، دا جرم باید د شکایت په نشتون کې هم تر عدلي تعقیب لاندې ونیول شي.

د ۲۰۱۹ کال په اکتوبر میاشت کې، یوه ۱۶ کلنه انجلۍ د یو ۲۸ کلن سړي سره د هغې د تره ، د هغې د ولي، لخوا په زوره واده شوې وه. د هغې د میره د تاوتریخوالي له امله هغه له کور څخه وتښتېده. د ۲۰۱۹کا په نومبر میاشت کې، د هغې میره د هغې په وړاندې د تېښتې په خاطر د حقوقو په ریاست کې شکایت وکړ، چې قضیه یې د ولسوالی محکمې ته راجع کړه. محکمې واده منحل کړ، پدې شرط چې انجلۍ خپل میره ته مالي خساره ورکوي. د راپورونو له مخې د انجلۍ د رسمي شکایت د نشتون له امله، د ماشومانو د ودونو جرم په تړاو هیڅ تور نه دی راپورته شوی.

د ۲۰۱۸کال په اکتوبر میاشت کې، یوه ۱۰ کلنه انجلۍ یو ۲۰ کلن سړي ته د هغې د پلار لخوا په بدل کې ورکړه شوه. د هغې له واده یوه ورځ وروسته، هغه د راپور له مخې جنسي مقاربت په وسیله د جدي خونریزۍ له امله ولایتي روغتون ته وړل شوې وه او د زخمونو له امله مړ شوه. لکه څنګه چې کورنۍ د طالبانو تر کنټرول لاندې سیمه کې اوسېده، ملي پولیسو راپور ورکړی چې دوی ونشو کولای چې قضیه تعقیب کړي.

## ه. د جنسي تیري د پیښو درملنه

### د طبي معایناتو ترسره کول

د جنسي تیرۍ ډیرۍ په قضیو کې چې د یوناما لخوا مستند شوي، ژوندي پاتې شوي کسان د طبي معایناتو لپاره لیږل شوي وو وروسته لدینه چې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د مخنیوي ادارو ته راپور ورکړي. دا ډول ازموینې د دې لپاره ترسره

[34] د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د منع د قانون ۲۸ ماده، د ۱۹۷۷ کال مدني قانون د ۷۱ مادې په نه پام کې نیولو سره، د هغه ښځې واده منع کوي چې د واده قانوني عمر ته رسیدلی نه وي. د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د منع د قانون د ودونو قانوني عمر یې ندی تعریف کړی . لیکن، د مدني قانون د ۷۰ مادې ۱ فقره تصریح کوي چې انجونې د ۱۶ کلن عمر څخه وروسته د واده کولو قانوني اهلیت لري؛ یاده ماده زیاتوي چې کومه انجلۍ چې عمر یې ۱۶ کلنۍ ته نه وي رسیدلی ممکن د هغې د پلار یا وړ محکمې لخوا واده شي. او د ۷۱ مادې ۲ فقره د ۱۵ کالو څخه د ټیټ انجلۍ واده کول منع کوي. د دې راپور د موخې لپاره و د ماشوم د حقونو د کنوانسیون ۱ مادې سره سم، یوناما قضیې د ماشوم ودونو په توګه طبقه بندي کړي کله چې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي ضد ادارو ته راپور کیږي او انجلۍ لا تر اوسه ۱۸ کلنۍ ته نه ده رسېدلې. د یوناما لخوا د ماشومانو د ودونو له ۱۶ قضیو څخه ۱۱ ثبت شوي چې د ۱۵ کلونو یا تر هغه لږ عمر لرونکي انجونې دي.

[35] د ښځو پروړاندې د تبعیض د له مینځه وړلو کمیټه او د ماشوم د حقونو په اړه کمیټه ، د زیان رسونکو عملونو په اړه د عمومي سپارښتنه ګڼې ۳۱ او ۱۸، -CEDAW/C/GC/31 CRC/C/GC/18، ۲۰۱۴ کال نومبر ۱۴ نیټه، ۲۴-۲۴ فقرې؛ د ملګرو ملتونو عمومي مجمع، د بشري حقونو شورا، د ملګرو ملتونو د بشري حقونو عالي کمیشنر دفتر راپو ، د ماشوم واده، د ماشوم وختي واده او جبري ودونو مخنیوي او له مینځه وړل A/HRC/26/22، ۲۰۱۴کال د اپریل ۲ نیټه، ۱۰پاراګراف.

کیږي چې مجروحیت مستند کړي، د درملو قانوني مدارک راټول کړي، او مناسبه درملنه او پاملرنه وړاندې کړي، خو یادې آزمویني باید د عامې روغتیا وزارت د جنډر پراساس د تاوتریخوالي درملني پروتوکول په مطابقت سره ترسره شي[36].

لیکن، د یوناما لخوا مستند شوي ډیری قضیې د عدلي او قضایي ادارو موظفینو درک او فهم د یادو ازموینو او هدف په تړاو د ژوندي قربانیانو حقونو په اړه جدي اندیښني راپورته کوي. داسې بریښي چې ښځې ډیری ځله تمه کیږي چې د جنسي تاوتریخوالي راپور ورکولو وروسته دا معاینات وکړي، پرته لدې چې بشپړ رضایت له یادو ښځو څخه ترلاسه کړي[37]. ښځې ځیني وختونه څو ځله د دې ازموینو لاندې نیول شوي دي، سره له دې چې غوره رویه داسې ده چې د جدې فزیکي آزموینو شمیر باید د حد اقل کچې ته راټیټ شي. سربیره پردې، داسې بریښي چې د فزیکي شاخصونه لکه پیژندل شوي ټپونو پراساس دي، ملي پولیس او څارنوالان اکثرا پر ازمویني تکیه کوي ترڅو معلومه کړي چې آیا جنسي تاوتریخوالی پیښ شوی او که نه. خو، دا د روغتیایي کارمندانو دنده ندی چې پدې اړه کوم تفیسر وکړي چې ایا جنسي تاوتریخوالی پیښ شوی او که نه، او د پیژندني وړ ټپونه ممکن د جنسي تاوتریخوالي ډیری قضیو کې څرګند نه وي[38].

د یوناما لخوا د څارنې په بهیر کې، راټول شوي بیلابیل معلومات وړاندیز کوي چې ځیني ښځې او انجونې چې د جنسي تاوتریخوالي راپور ورکوي د بکارت معلوملو لپاره د طبي معایناتو لاندې نیول شوي. دا ډول ازمویني هیڅ طبي یا ساینسي ځانګړی اساس نلري او د جنسي تاوتریخوالي د یو شکل په توګه، د بشري حقونو جدي سرغړونه ګڼل کیږي[39].

د ۲۰۱۸ کال په نومبر میاشت کې، وروسته لدې چې د هغې د واده کولو په شپه د هغې د میړه لخوا تورنه شوه چې هغه باکره نده، یوه ۱۶ کلنه نجلۍ وویل چې یو کال وړاندې پر هغې جنسي تیری شوی و. ظاهراً هغه ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د ضد څارنوالی لخوا طبي معایناتو لپاره لیږل شوې وه، چې د راپورونو له مخې، پر انجلۍ باد جنسي تیری تایید شو.

د ۲۰۱۹ کال په جنوري میاشت کې، یوې ۱۴ کلنې نجلۍ ملي پولیسو ته راپور ورکړ چې پر هغې د خپل ۴۰ کلن تره لخوا په پرله پسې ډول جنسي تیری شوی. د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي ضد څارنوالی څارنوال یاده ښځه دوه ځله د طبی معایناتو لپاره ولایتي روغتون ته ولیږله، چې د راپورونو له مخې د جنسي تیري ثبوت یې نه دی ښودلی. وروسته له هغې، یاده نجلۍ د یوې بلې معاینې لپاره کابل ته واستول شوه، چې په بیا یې هم تایید نه کړه چې پر هغې جنسي تیری شوی وو. د جولای په میاشت کې، څارنوالی خپله صورت دعوا ابتدایي محکمې ته وسپارله. بیا، یادې محکمې قضیه یې څارنوالی ته راستوله او له هغې څخه یې د معایناتو په اړه د لازیاتو معلوماتو غوښتنه وکړه. وروسته محاکمه په اګست کې ترسره شوه او مرتکب په سزا محکوم شو.

د ۲۰۱۹ کال په جولای میاشت کې، یوه سړي ملي پولیسو ته شکایت وکړ چې د هغه لور، چې کونډه ده، مخکې له دې چې وتښتي او کور ته راستنه شي، د نږدې یو کال لپاره هغه د خپل اوښي لخوا پرې جنسي تیری شوی. یاده ښځه د طبي معایناتو

---

[36] د افغانستان اسلامي جمهوریت د عامې روغتیا وزارت، د روغتیا نړیوال سازمان د افغانستان د هیوادني دفتر ، او د جنډر مساواتو او د ښځو ځواکمنتیا لپاره د ملګرو ملتونو دفتر، په افغانستان کې د روغتیا پاملرنې چمتو کونکو لپاره د جنډر له مخې د تاوتریخوالي درملني پروتوکول ، ۲۰۱۴ کال، ۱۶ صفحه. یاد راپور په لاندې لینک کې شتون لري: .https://reliefweb.int/report/afghanistan/gender-based-violence-treatment-protocol-healthcare-providers-afghanistan

[37] د جنډر پراساس د تاوتریخوالي د درملنې پروتوکول، ۱۶-۱۷ صفحې، په ګوته کوي چې ښځې اړتیا لري د ازموینې هدف، دا چې ازموینې څنګه ترسره کیږي، او د راټول شویو معلوماتو د محرمیت په اړه پوره معلومات ورکړل شي. د ازموینې هرې برخې لپاره په جلا توګه د ښځې رضایت ترلاسه شي او ښځې کولی شي د آزموینې هرې ځانګړې برخې ته رضایت ورکولو څخه انکار وکړي چې دوی پکې راحته ندي.

[38] د جنډر پراساس د تاوتریخوالي درملنې پروتوکول، ۱۶-۱۷، ۲۱، ۶۳-۶۵ صفحې، یادونه کوي کله چې معاینه د جنسي تیري قضیې په اړوندي موضوع کې ترسره کیږي، نو باید د قربانۍ د بکارت یا جنسي سابقې په اړه د معلوماتو ترلاسه کولو هدف سره نه وي او دا چې دا د روغتیا پاملرنې موظف رول دا نه دی چې د جنډر پربنسټ د تاوتریخوالي پېښېدو په اړه کومه توضیح یا تفسیر ورکړي. طبي او عدلي خدمتونه باید داسې وړاندې شي چې د ناځاپي فزیکي ازموینو او مرکو شمیره کمه کړي ترڅو ناروغ مجبوره کړی هغه ترسره کړي. سربیره پردې، د جنسي تیري وروسته، د پیژندلو وړ زیان د ۵۰٪ څخه لږ پیښو کې شتون لري.

[39] پداسې حال کې چې د "بکارت آزمویني" په نامه عمل د جزا کوډ د (۲) ۶۴۰ مادې له مخې منع شوي دي، یو استثنا شتون لري، هغه دا چې د ښځې رضایت او د یوې باصلاحیته محکمې حکم سره سم د "بکارت آزموینه" ترسره کیدای شي. د میرمنو پروړاندې د انزوا د له منځه وړلو کمیټې په پرله پسې ډول غوښتنه کړې چې په بشپړ ډول د "بکارت ازموینه" په نامه عمل منع کړي. د ښځو پروړاندې د تبعیض د لمنځه وړلو د کمیټې، د افغانستان په اړه دریم دوراني راپور کې نهایي ملاحظات CEDAW/C/AFG/CO/3، د ۲۰۲۰ کال مارچ ۲، (ز)۲۴ پاراګراف؛ همدارنګه وګورئ، د نړیوال روغتیا سازمان ، د ملګرو ملتونو د بشري حقونو عالي کمیشنر دفتر، او د ښځو په چارو کې ملګرو ملتونو د دفتر، د بکارت ازموینې له منځه وړل: یوه بین الاداراتی بیانیه، ۲۰۱۸. یاده بیانیه په لاندې لینک کې به آنلاین بڼه شتون لري:-https://apps.who.int/iris/bitstream/handle/10665/275451/WHO-RHR 18.15-eng.pdf?ua=1. د بشري حقونو لپاره ډاکټران: بکارت او د بکارت پرده او هیڅ واقعي، علمي یا طبي اساس نشتون، د ۲۰۱۵ کال د مۍ میاشت -https://phr.org/our work/resources/virginity-and-hymen-testing-no-factual-scientific-or-medical-basis/ . د شکنجې او نور ظالمانه ، غیر انساني یا تحقیرکونکي چلند یا جزا په اړه د ځانګړي راپور ورکوونکي راپور، د ملګرو ملتونو د بشري حقونو شورا، اوومه ناسته، A / HRC / 7/3 ، د جنوري ۷، ۳۴ پاراګراف.

لپاره لیږل شوې وه، چې د راپورونو له مخې دې پایلې ته رسیدلې چې پر هغې جنسي تیري شوی نه وو بلکه په جنسي اړیکو کې یې رضایت درلود. د ملي پولیسو اداري دغه قضیه د حقوقو ریاست ولایتي څانګې ته راجع کړه، چې له مخې یې یاده ښځه د هغې له اوښي سره واده شي، خو بیا هغه کس (اوښي) لادرکه شو.

د ۲۰۱۹ کال په اپریل کې، یوه ۱۲کلنه انجلۍ د ښځو چارو ریاست ته ورغله او راپور یې ورکړ چې د نارینه خپلوان لخوا په پرله پسې ډول پرې جنسي تیری شوی. د ښځو چارو ریاست پولیسو ته د قضیې په راپور ورکولو کې د هغې سره مرسته کړې او هغه د طبي معایناتو لپاره واستول شوه، چې د راپورونو له مخې د معایناتو نتیجې د جنسي تیري هیڅ ډول سند ونښود. وروسته، څارنوال قضیه د شواهدو او مدارکو د نشتوالي له امله وتړله.

د ۲۰۱۹ کل د نومبر په نیمایي کې، د یوې ۱۵ کلنې نجلۍ مور او پلار ملي پولیسو ته راپور ورکړ چې پر هغې د یوه سړي لخوا جنسي تیری شوی و چې د ملګري لخوا معرفي شوی و. وروسته له هغې چې قضیه د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي ضد څارنوالۍ ته راجع شوه، یاده نجلۍ د طبي معایناتو لپاره ولیږل شو چې د راپورونو له مخې معلومه شوه چې یې پر هغې جنسي تیری نه دی شوی. قضیه په دې اساس ودرول شوه. د راپورونو سره سم، یادې نجلۍ بیا هغه تورن مرتکب سره واده وکړ.

**د جنسي تیری له واده غیر د جنسي اړیکو په توګه تور لګول**

د جنسي تیري په اتو قضیو کې چې د یوناما لخوا مستند شوې، څارنوالۍ یا ابتدایی محکمې د جنسي تیري قرباني راپور د رضایت لرونکې جنسي اړیکو [زنا] په توګه ارزولې. په دغو ډیری قضیو کې، قربانیان بیا د جزا کوډ د (۱) ۶۴۳ مادې له مخې تر عدلي تعقیب لاندې راغلي.

د ۲۰۱۹کال په اپریل کې، یوې ښځې ملي پولیسو ته راپور ورکړ چې یو ۲۲ کلن سړي د هغې پر یوې ۱۷ کلنې لور جنسي تیری کړی. که څه هم د ښځو پر وړاندې د تاریخوالي ضد څارنوال، پر شکمن مرتکب د جنسي تیري تور یې ولګو، خو ابتدایی محکمې دغه تور په زنا بدل کړی او قرباني یې په سزا محکوم کړ. باید یادونه وشي چې د جزا کوډ د ۶۳۸ مادې سره سم، د قانوني عمر څخه ټیټ عمره[40] شخص سره جنسي مقاربت د جنسي تیري په توګه ګڼل کیږي او د ماشوم لخوا وړاندې شوي هر ډول رضایت غیرقانوني دی.

د جرم تور لګولو ډیر احتمال لري چې د جنسي تاو تریخوالي راپور ورکولو لپاره د قرباني په ارادې باندې ناوړه اغیزه ولري[41]. کله چې د داسې شرایطو سره مل وي چې د جنسي تاوتریخوالي په اړه د ښځې په راپور اکثرا باور نه کیږي مګر دا چې هغه د دې ډول تاوتریخوالي فزیکي نښو ته اشاره وکړي، د جنسي تاو تریخوالي جرمونو په اړه عدالت ته د لاسرسي لپاره د ښځو خوندي او واقعیتي وړتیا په شدیده توګه له منځه زي.

# ۵. نتیجه

افغانستان د تاوتریخوالي جرمونو لپاره عدالت ته د ښځو او انجونو لاسرسی ډاډمن کولو په هڅو کې ګړندی پرمختګ کړی دی. د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د منع قانون یوې لسیزې نه سترې کیدونکې اداري جوړونې او د ښځو او انجونو حق په اړه د چلند د بدلون لپاره هڅو سره مل ده چې موخه یې له هر ډول تاوتریخوالي څخه هغوی (ښځې او انجونې) خلاصون

---

40 د جزا کوډ ۹۵ ماده، ماشوم د یو داسې شخص په توګه تعریف کوي چې عمر یې تر ۱۸ کالو پورې نه وي رسیدلی. له همدې امله داسې فرض کیږي چې په ۶۳۸ مادې کې "قانوني عمر" باید د پورتنې مادې په اساس درک او فهم شي.

41 د ملګرو ملتونو ځانګړي کړنالرې، په قانون او عمل کې د تبعیض مسئلې په اړه کاري ډلې، د جرمي کړنې په توګه زنا د ښځو له بشري حقونوڅخه سرغړونه ده، د ۲۰۱۲ کال د اکتوبر میاشت. د ښځو په وړاندې د هر ډول تبعیض د له منځه وړلو کنوانسیون پراساس د افغانستان په دریم دوره ای راپور کې د ۲۰۲۰ کال په نهایي ملاحظاتو کې د میرمنو پرووړاندې د تبعیض د لمنځه وړلو کمیټې د ښځو او انجونو د جنسي تیریو د بیا قرباني کیدو او د زنا په تور تورن کیدلو په اړه خپله ژوره اندیښنه په ګوته کړه. توصیه وشوه چې افغانستان د جزا په کوډ کې د زنا په ګډون "اخلاقي جرمونه" د جرمونو له فهرست څخه وباسي. CEDAW/C/AFG/CO/3 د ۲۰۲۰ کال مارچ ۲، ۲۴-۲۳ پاراګرافونه.

ده. داسې برېښي چې د تاو تريخوالي جرمونو راپور ورکول او همدارنګه د محکومیتونو کچه ورو ورو وده کوي، پداسې حال کې چې د ورته جرمونو د حل لپاره د غیر رسمي منځګړیتوب کارونه ممکن ورو ورو کم شي.

خو، ننګونې لاهم شتون لري. داسې برېښي چې عدالت ته د ښځو او انجونو لاسرسی په ځانګړي ډول د هغو جرمونو په اړه بهتر شوی چې جدي جرمونو ګڼل کیږي لکه قتل او جنسي تیری. پداسې حال کې چې هغه جرمونه چې لږ جدي ګڼل کیږي د عدلي سیستم خوا عادي چلند ورسره کیږي. دا د هغه نظر څخه سرچینه اخلي او ځاوو تقویه کوي، چې د ښځو او انجونو پروړاندې اکثره تاوتریخوالی د دولت لپاره د اندیښنې وړ نده، بلکې یوه شخصي کورنۍ موضوع ده.

> ډېر احتمال لري چې په جرم باندې د تورن کېدلو له امله د جنسي تاوتریخوالي راپور ورکول د قرباني پر هوډ باندې ناوړه اغېزه ولري.

دا یوه جدي اندیښنه ده چې د ښځو پر وړاندې د تاو تريخوالي د منعې قانون په چوکاټ کې ډېری جرمونه د دې پر اساس نه تعقیب کیږي چې قرباني خپله شکایت ندی ثبت کړی او نه یې ساتلی دی، په ځانګړي ډول د هغو جرمونو لپاره چې پرته له کوم شکایت څخه تر عدلي تعقیب لاندې نیول کیږي. دولت باید دا درونډ بار د قربانیانو پر اوږ وانچوي، په ځانګړي توګه په داسې حالاتو کې چې د داسې جرم راپور ورکول ممکن هغه د هغې له کورنۍ او ټولنې سره په مخالفت کې واچوي او د هغې خوندیتوب له خطر سره مخامخ کړي. دا مسؤلیت په ځانګړي ډول د ماشومانو د ودونو په قضیو کې خورا سخت و درونډ دی. د یوناما څارنې دا په ګوته کوي چې زیاد شمیر ښځې لاهم د ځان سوزونې یا ځان وژنې هڅه کوي کله چې دوی د تاوتریخوالي سره مخ وي او داسې احساس وکړي چې دوی د تېښتې لپاره ریښتینې لاره نه لري.

> د یوناما څارنه دا په ګوته کوي چې زیاد شمیر ښځې لاهم د ځان سوزونې یا ځان وژنې هڅه کوي کله چې دوی د تاوتریخوالي سره مخ وي او داسې احساس وکړي چې دوی د تېښتې لپاره ریښتینې لاره نه لري.

سربیره پردې، د جزايي عدالت سیستم د "اخلاقي جرمونو" په نامه په تور د ښځو او انجونو توقیفولو ته دوام ورکوي، په ځانګړي توګه له کورونو څخه د پرېښودو د تور په واسطه هغوي تر عدلي تعقیب لاندې راولي. په ورته ډول، د جنسي تیري قضیو عدلي تعقیب ستونزمنې دي، په ځانګړي توګه د طبي معایناتو ترسره کول او احتمالاً قربانیانو ته ګوتڅنډنه چې که دوی راپور ورکول غوره کړي نو د زنا د جرم تور به پرې ولګول شي. نامناسبه او جبري طبي معاینات ممکن پخپله د جنسي تاو تريخوالي کچې کړونو ته ورته شي او باید تر عدلي تعقیب لاندې راشي. دا اندیښنې داسې یو سیستم ته اشاره کوي چې قرباني محور نه وي. رسمي عدلي او قضایي سیستم د دې پر ځای چې د ښځو ساتنه او ملاتړ وکړي، اکثرا دوی بیاځلي قرباني کوي.

> د دې پرځای چې د ښځو ساتنه او ملاتړ وکړي، د عدالت رسمي سیستم اکثراً دوی بیا قرباني کوي.

لکه څنګه چې د دې راپور دوره د څارنې د موخو لپاره پای ته رسیده، په افغانستان کې د کووید-۱۹ لومړۍ قضیې د ۲۰۲۰ کال په فبرورۍ کې کشف شوې. له هماغه وخت راهیسې د یوناما لخوا روانه څارنه ښيي چې د ښځو او انجونو پروړاندې د تاوتریخوالي پېښې ډېرې شوې دي او همدارنګه د قضیو په راپور ورکولو او خوندیتوب ته لاسرسي کې ستونزې لا زیاتې شوې دي، چې دا وبا ناروغۍ په تړاو د نړۍ په کچه بهیرونه منعکس کوي[42]. په ځانګړي توګه پدې برخه کې، او په حقیقت کې لکه څنګه چې د افغانستان د سولې خبرو اترو زور اخیستی، دا خورا مهم دی چې د افغانستان اسلامي جمهوریت حکومت د تاوتریخوالي پر وړاندې د ښځو او انجونو د ساتنې هڅو ته په لومړیتوب ورکولو سره دوام ورکړي، ډاډ ترلاسه کړي چې دوی (ښځې او انجونې) عدالت ته لاسرسی وشي لرلی، او مرتکبینو سره حساب و کتاب ولري. پرمختګ خورا ورو خو واقعي دی. دا مهمه ده چې د پرمختګ بهیر لا ګړندی شي.

42 وګورئ ، د بیلګې په توګه، ملګري ملتونه، د پالیسۍ لنډیز: په ښځو باندې د کووید-۱۹ غیز، د ۲۰۲۰ کال د اپریل ۹.

# ۶. سپارښتنې

*په حقوقي چوکاټ کې تعدیلات*

- د قانون پر اساس دچارواکو دصلاحیتونو د پراخولو لپاره د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د منع د قانون تعدیلول، ترڅو د قرباني له خوا پر لومړي شکایت د اتکا کولو پر ځای او پرته له دې چې د قرباني له خوا د شکایت بیرته اخیستل په پام کې ونیسي، په قانون کې تول تصریح شوي جرمونه او سرغړونې وڅیړي او تر عدلي تعقیب لاندې ونیسي.
- د تدابیرو غښتلي کول، څو ډاډمن شي چې ښځې او نجونې له کور څخه د "تېښتې" لپاره په خپل سري ډول نه دي توقیف شوي.
- د جزا د کود د ۶۴۰ (۲) مادې تعدیلول، څو ډاډمن شي چې له کومې استثنا پرته د "بکارت ازموینې" جرم وګڼل شي؛ ډاډمن شي چې د دغو "ازموینو" پایلې په جزایي اجراآتو کې د شواهدو په څیر نه کارول کېږي، لکه څرنګه چې یې په اړه د ښځو په وړاندې د هرډول توپیر د منع د کمیټې (سیدا) له خوا سپارښتنه شوې؛ هغه کسان تر عدلي تعقیب لاندې ونیول شي څوک چې د جزا له کود څخه په سرغړونې دغه "ازموینې" ترسره کوي.

*د ښځو او نجونو په وړاندې تاوتریخوالي د نهادونو له خوا دغبرګون غښتلي کول*

- د افغان ملي پولیسو د کورنیو شخړو د حل و فصل څانګې لپاره د منابعو زیاتول، په ځانګړي ډول د ښځینه پولیس افسرو د شمیر د زیاتولو له لارې، لکه څرنګه چې یې په اړه د ښځو په وړاندې د هرډول توپیر د منع د کمیټې(سیدا) له خوا سپارښتنه شوې؛ د خوندي او محرمانه ځایونو رامنځته کول څو ډاډمن شي چې د تاوتریخوالي قربانیان کولی شي په خوندیتوب او درناوي سره د جرمونو په اړه راپور ورکړې؛ د دې یقیني کول چې د کورنیو شخړو د حل و فصل څانګې جلا کار ځایونه او دفتري تجهیزات ولري.
- د افغانستان د *جنډر پر بنسټ د تاوتریخوالي د* چلند *د پروتوکول* په اړه د افغان ملي پولیسو او د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د منع د قانون د څارنوالانو روزل.
- له دولتي بودجې څخه د تمویل د برابرولو په ګډون د ښځو د سرپناه ځایونو د ملاتړ او پوښښ پراخول، څو ډاډمن شي چې د تاوتریخوالي قربانیان کولی شي له تاوتریخوالي سره تر مخ کیدو وروسته سرپناه او خوندیتوب ته لاس رسی لري.
- د مدافع وکیلانو د سلا مشورو او د حقوقي مرستو د شبکو د ملاتړ پراخول څو ډاډمن شي چې د تاوتریخوالي قربانیان – په ځانګړي ډول په لیرې پرتو کلیوالو سیمو کې – د خپلو حقونو په اړه وړیا معلومات او د خسارې د جبران په ګډون د تاوتریخوالي د جرمونو لپاره عدالت ته په لاس رسي کې مرستې تر لاسه کولی شي.
- د قضیو د مدیریت او د ډل بندی لپاره د یو ډول شرایطو د یوه فعال سیستم د رامنځته کولو په ګډون، د ښځو او نجونو په وړاندې د تاوتریخوالي د جرمونو او د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د منع د قانون د تطبیق په اړه د ادارو ترمنځ د همکارۍ غښتلي کول. په شمول د قضایاو مدیریت سیستم او یادو جرمونو له پاره ټاکلي معیارونو رامنځته کول، لکه څنګه چې د ښځو پرووړاندې د هرډول توپیر دمنع د کمیټې (سیدا)له خوا وړاندیز شوي ، ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې دیادو قضایاو راپور ورکول د جنسیت ، عمر ، توکمیزې ډلې ، معلولیت او د قرباني او مرتکب ترمنځ اړیکې سره دتوپیر په بنسټ وړاندی شي.